د شجرهٔ عالیه قادریه رضویه عطاریه د یو بزرګ ذِکر، په نوم د

# فیضانِ شیخ ابوبکر شبلي رحمۃ اللہ علیہ

پښتو




- د عاشقِ درود او سلام مقام
- په څلور زره حدیثونو کښې صرف یو؟
- د وفات شریف په وخت هم په سُنّت باندې عمل
- د شیخ شبلي یو څو فرامین

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فیضانِ شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

**دُعائے عطار:** یا ربَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله " فیضانِ شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه" اولولي یا واوري هغه د دُنیا د محبت نه بچ کړې، د اخلاص سره ورله د نیکو کولو توفیق ورکړې، او بے حسابه ئې جنتُ الفردوس ته داخل کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د سلسلهٔ قادریه رضویه عطاریه مشهور بزرګ، حضرت ابو بکر شبلي بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما خپل وفات شوے ګاوندے په خوب کښې اولیدلو او پوښتنه مې ترې اوکړه: الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائیله؟ هغه اووئیل: زه ډیر د سختو نه تیر شوم، د منکر نکیر (په قبر کښې امتحان اخستونکو فرښتو) د پوښتنو جوابونه هم زما نه نهٔ جوړیدل، ما په زړه کښې سوچ اوکړو چې کیدے شي زما خاتمه په ایمان باندې نه وي شوې! په دې کښې آواز راغے: په دُنیا کښې د ژبې د

غير ضروري استعمال په وجه تا له دا سزا درکړے کيږي. بيا د عذاب فرښتې زما په لور را وړاندې شوې. په دې کښې يو صاحب چې ډېر ښکلے او خوشبوداره وو، هغه زما او د عذاب ترمينځه راغلو او هغه ما ته د منکر نکير د پوښتنو جوابونه را ياد کړل او ما دغه شان جوابونه ورکړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عذاب زما نه لرې شو. ما هغه بزرګ ته عرض اوکړو: الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي تاسو څوک يئ؟ اوئې فرمائيل: ستا د ډېر زيات درود شريف لوستلو په برکت زه پيدا شوے يم او ما ته په هر مصيبت کښې ستا د مرستې کولو ذمه واري سپارلے شوې دہ.

(القول البديع، ص260)

آپ کا نامِ نامی اے صلِّ علیٰ ہر جگہ ہر مصیبت میں کام آگیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قبر ته آقا ولې نشي راتلے!

سُبْحٰنَ الله! د زيات درود شريف په برکت سره د مدد کولو د پاره چې فرښته راتلے شي نو د ټولو فرښتو هم آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم ولې نشي کولے! چا خو بالکل په ځائے فرياد کړے دے.

میں گور اندھیری میں گھبراؤں گا جب تنہا امداد مِری کرنے آجانا مرے آقا

روشن مِری تُربت کو لِلّٰہ شہا کرنا جب وقتِ نزع آئے دیدار عطا کرنا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د عاشقِ دُرُود او سلام مقام

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو د درودِ پاک برکت اوليدلو؟ کاش! چې مونږه هم درودِ پاک لولو. د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه دولسم پير و مرشد، حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې چې کوم مقام وو د هغې اندازه د دې واقعې نه اولګوئ. حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يوه ورځ د بغداد شريف د ډير لوئے عالم حضرت ابو بکر بن مُجاهد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له تشريف يوړلو نو هغوئي فوراً اودريدلو او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د تندي ښکلولو سره ئې ډير په تعظيم سره د ځان خوا کښې کښينولو، حاضرينو عرض اوکړو: يا سَيِّدي! تاسو او د بَغداد خلقو به تر پرونه پورې دوئي ته ديوانه وئيلو خو نن د دوئي دومره قدر او تعظيم ولې؟ جواب ئې ورکړو: ما هسې داسې اونه کړل، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! بيګاه ما په خوب کښې يوه ايمان تازه کوونکې نظاره اوليدله چې ابو بکر شبلي په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو نو د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودريدلو او دوئي ئې خپلې سينې ته راجُوخت کړل او د تندي ښکلولو سره ئې د ځان خوا کښې کښينولو. ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په شبلي باندې د دومره شفقت وجه؟ د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر ورکولو سره) اوفرمائيل چې دا د هر لمُونځ نه پس دا آيت لولي:

﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۲۸﴾﴾

(پ 11، التوبه: 128)

اودې نه پس په ما باندې درود لولي.

(القول البدیع، ص346)

بے عدد اور بے عدد تسلیم
بے شمار اور بے شمار دُرُود

بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے
ہو اِلٰہی مرا اشعار دُرُود

(ذوقِ نعت، ص 124)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب
صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په شجرهٔ قادریه رضویه عطاریه کښې ذکرِ خیر

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مریدانو او طالبینو ته هره ورځ د لوستلو د پاره د بزرګانِ دین رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم چې کومه شجره شریف ورکړې ده په هغې کښې د شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په وسیلے سره داسې دُعا شوې ده:

بہرِ شبلی شیرِ حق دُنیا کے کُتّوں سے بچا
ایک کا رکھ عبدِ واحِد بے رِیا کے واسطے

الفاظمعانی: بہر: واسطے- شیرِحق: ده الله پاک شیر- دنیا کے کتے: ده دنیا حریص -بے رِیا: مخلص بنده

**د دعائیه شعر مفهوم:** اے الله پاک! حضرت ابو بکر شبلي کوم چې ستا نیک او پرهیزګاره بنده او شیر دے، د هغوئي په وسیله باندې ما د دنیا د حرص

کوونکو او لاچيانو نه بچ کړي. ما د هغوئي د خليفه حضرت عبد الواحد تميمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په وسيله هم د يو در مخلص غلام جوړ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عربي شجره

عظيم عاشقِ صحابه و اهل بيت، امام اَهلِ سُنَّت اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يوه اوکړده د عربئ شجره شريف، بصيغه درود شريف ليکلې دہ، په هغې کښې د حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ذکرِ خير څه داسې کوي:

"اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى الشَّيْخِ اَبِيْ بَكْرِنِ الشِّبْلِيْ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ"

ترجمه: اے الله پاک! ته په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې، د هغوئي په آل او اصحابو باندې او په شيخ او مولٰی حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه باندې درود او سلام اوليږې او برکت نازل کړي.

(تاريخ و شرح شجرهٔ قادريه برکاتيه رضويه، ص109)

## تعارُف او وِلادت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 247 ھ کښې د بغداد شريف سره نزدې په "سامره" نومې علاقه کښې دنيا ته تشريف راوړلو. د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نوم مبارک "جعفر" او کنيت "ابو

بکر" دے. په شبله یا شبیله علاقه کښې د اوسیدو په وجه هغوئي ته "شبلي" وئیلے شي.(تذکرۂ مشائخ قادریه رضویه، ص202) د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د الله پاک د مبارک نوم سره ډیره مینه وه، چرته چې به ئې هم لفظ "اللّٰـه" لیکلے لیدلو نو فوراً به ئې ښکلولو. (مسالک السالکین، 318/1)الله پاک د هغوئي د سترګو نه پردے لرې کړې وے هغوئي ښکېله فرمائي: زه چې کله بازار ته ځم نو هلته د موجودو خلقو په تندي باندې سعید (یعني نیک بخته) او شقي (یعني بد بخته) لیکلے لولم.

(تذکرۃ الاولیاء، 141/2)

## بادشاهي خلعت

حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه 30 کاله علمِ دین حاصل کړو او په فقه او حدیث کښې ئې اوچته مرتبه اوموندله. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مالکي وو، د حدیثِ پاک مشهور کتاب "مُؤَطّا امام مالک" هغوئي ته په یادو یاد وو.

(تذکرۂ مشائخ قادریه رضویه، ص 202)

د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه والدِ محترم د بادشاه له طرفه د یوے علاقے امیر وو. د علمِ دین حاصلولو نه پس هغوئي ته هم د والدِ محترم په شان د نَهاوَند (د یوے علاقے نومې) د ګورنرئ عُهده میلاؤ شوه. یو ځل بادشاه ټول اُمَراء رااوبلل او ټولو له ئې خلعت (یعنې قیمتي جامې) ورکړې. اتفاقاً یو امیر له انتروشے [پرنجے] ورغلے او هغه د بادشاه له طرفه میلاؤ شوي

خلعت [يعني جامے] باندې پوزه صفا کړه، بادشاه له ډيره غُصَّه ورغله، هغه معزول کړو او د هغه نه ئې خلعت بيرته واخستلو. حضرت شيخ ابو بكر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بادشاه خوا ته تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: اے بادشاه! تهٔ يو مخلوق ئې، تهٔ دا نه خوښوې چې ستا د ورکړے شوي انعام څوک بے ادبي اوکړي نو د ټول جهان مالک او مولٰـی ما له د خپلې دوستئ نعمت راکړے دے هغه به کله خوښوي چې زه د هغه دا عظيم نعمت ضائع کړم! د دې فرمائيلو سره هغوئي د هغه ځائے نه بهر راواوتلو او د عُهدے د پريښودو سره د حضرت خيرُ النَّساج رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه محفل ته حاضر شو او توبه ئې اوکړه. هغه هغوئي ته د وخت د ډير لوئے ولئ كامل بلکه د اوليائے کرامو د سردار حضرت ابو القاسم جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خدمت کښې د حاضريدو اوفرمائيل، هغوئي د هغه په لاس باندې د بيعت کولو سره ښه ډير عبادت او رياضت اوکړو، بيا ئې هغوئي له خلافت هم ورکړو.

(شريف التواريخ، 1/583، 584 ملتقطاً۔مسالك السالكين، 1/316 ملخصاً)

اُن کا منگتا پاؤں سے ٹھکرادے وہ دنیا کا تاج جس کی خاطر مَر گئے مُنعَم رگڑ رگڑ کر ایڑیاں

(حدائقِ بخشش، ص86)

الفاظ معانی: دنيا کا تاج: عُهْده و مَنْصب- منعَم: نعمتوں والا-

شرحِ کلام رضا: د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې شعر مطلب دے: د بارگاهِ

رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فقير په اصل کښې د ټولو نه لوئے امير دے چې هغه د دنيا د ټولو لويو لويو عُهدو د کومو د حاصلولو د پاره چې خلق په کوششونو کولو کښې مړه کيږي، هغې له لته ورکوي. يو شاعر څه ډير ښکلي وئيلي دي:

میں بڑا امیر و کبیر ہوں شہ دوسرا کا اَسیر ہوں
درِ مصطفٰے کا فقیر ہوں میرا رفعتوں پہ نصیب ہے

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت شبلي په سجده کښې دُعا اوغوښتله (واقعه)

اے عاشقانِ اولياء! د الله پاک نيك بندګان د دنيائي تخت او تاج، د دنيائي مال و اسباب خواهش نه لري، بلکه دوئي خو د الله پاک نه د غافله کوونکي دنيا او د دې د مال او جنجال نه لرې تښتي. لکه څنګه چې حضرت شيخ ابو بکر شبلي بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په دنيا کښې يو انښتے (يعنې دنيا دار) کس اوليدلو نو په سجده پريوتو او دا دعا ئې اولوستله:

”اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ عَافَانِیۡ مِمَّا ابۡتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیۡ عَلٰى كَثِيۡرٍ مِّمَّنۡ خَلَقَ تَفۡضِيۡلًا.“

ترجمه: د الله پاک شکر دے کوم چې ما له د هغه مصيبت نه عافيت راکړو په کوم کښې چې ئې تهٔ اخته کړې او ما له ئې په خپلو ډيرو خلقو باندې فضيلت راکړو.

(مرأة المناجيح، 389/2)

حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې به کله څوک دنیا دار لیدلو نو (د دنیا د مال د وبال نه د بچ کیدو د پاره به ئې) لوستل: "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ الْعَفْوَ وَ الْعَافِیَةَ فِی الدُّنْیَا وَ الْعُقْبٰی یعنې اے الله پاک! زه ستا نه په دنیا او آخرت کښې د معافئ او عافیت سوال کووم.

(مرقاة المفاتیح، 9/95)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَه په بارګاه الٰهی کښې عرض کوي:

تاج و تخت و حکومت مت دے — کثرتِ مال و دولت مت دے
اپنی رِضا کا دیدے مُژده — یاالله مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش، ص123)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب — صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د احسان بدله

حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یوه ورځ د خپلو خلویښتو مُریدانو د

قافلے سره د بغداد ښار نه بهر تشريف يوړلو، يو ځائے ته په رسيدو هغوئي اوفرمائيل: اے خلقو! الله پاک د خپلو بندګانو د رزق کفالت کوونکے دے، بيا هغوئي د 28 سيپارې د سورةُ الطلاق د دويم او دريم آيت مبارک دا حصه تلاوت اوفرمائيله:

وَ مَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ﴿۲﴾ وَّ يَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ وَ مَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ

(پ28، الطلاق:2،3)

مفهوم ترجَمهٔ كنزُ الايمان: او څوک چې د الله نه ويريږي، الله به د هغه د پاره د نجات لاره راوباسي او هغه له به د هغه ځائے نه رزق ورکړي د چرته نه چې د هغه ګمان هم نه وي او څوک چې په الله باندې بروسه اوکړي نو هغه د پاره کافي دے.

د دې فرمائيلو نه پس ئې مُريدان هم هلته پريښودل او هغوئي چرته تشريف يوړلو. ټول مُريدان هلته درې ورځې اوږې ناست وو. په څلورمه ورځ حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بيرته تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: اے خلقو! الله پاک د بندګانو د پاره د رزق لټولو اجازت ورکړے دے. (په سيپاره 29 سورة المُلک آيت نمبر 15 کښې) ارشاد کيږي:

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ

مفهوم ترجَمهٔ كنزُ الايمان: ”هغه دے کوم چې ستاسو د پاره زمکه تابع کړه نو د هغه په لارو کښې ځئ او د الله د رزق نه خورئ.“

ځکه تاسو په خپلو کښې خوک اولیږئ، اُمّید دے چې هغه به څه نا څه خوراک راوړي. مُریدانو یو غریب ګس بغداد ته اولیږلو، هغه کوڅه په کوڅه ګرځیدلو، خو د رزق میلاویدو څه لاره پیدا نه شوه، چې ستړے شو نو یو ځائے کښې کښیناستو، نزدې ورسره د یو غیر مسلمه طبیب دوا خانه وه، هغه طبیب د نبض ډیر ماهر وو، صرف د نبض کتلو سره به ئې د مریض حال پخپله وئیلو. تول لاړل هغه دغه الله والا هم مریض اوګڼلو او را اوبللو ئې او نبض ئې اوکتلو بیا ئې ډوډئ او اینګولے [ترکاري] او حلوه رااوغوښتله او د وړاندې کولو سره ئې اووئیل: ستا د مرض هم دغه دوائي ده. درویش طبیب ته اووئیل: داسې 40 مریضان نور هم دي. طبیب د غلامانو په ذریعه د څلویښتو ګسانو د پاره هم داسې خوراک رااوغوښتلو او د الله والؤ د پاره ئې اولیږلو او پخپله ورپسې هم پټ پټ شاته روان شو. کله چې د شیخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په خدمت کښې خوراک حاضر کړے شو نو هغوئي خوراک له لاس ور نه وړو او اوئې فرمائیل: اے د الله نیک بندګانو! په دې خوراک کښې خو عجیبه راز پټ دے، خوراک راوړونکي تولو واقعه بیان کړه. شیخ اوفرمائیل: یو غیر مسلمه زمونږ سره داسې ښه سلوک کړے دے، آیا مونږه د دې د بدلے ورکولو بغیر داسې ډوډئ اوخورو؟ مریدانو عرض اوکړو: عالي جاه! مونږه غریبانان خلق هغه له څه ورکولے شو؟ حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائیل: د ډوډئ خوړلو نه مخکښې د هغه په حق کښې دعا خو کولے شو، هم دا رنګه دُعا اوکړے شوه، لاس په لاس د دعا برکت څه داسې ظاهر شو چې هغه غیر مسلمه طبیب کوم چې تولې خبرې په پټه

اوریدلي د هغه په زړه کښې مدني انقلاب راغے، هغه فوراً خپل ځان د شیخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په بارګاه کښې وړاندې کړو او د توبه کولو سره ئې کلمۀ شهادت اووئیله او مسلمان شو او د شیخ په مریدانو کښې د شاملیدو سره اوچتې مرتبے ته اورسیدلو. (روض الریاحین، ص157ملخصاً) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

## د ولي خدمت رنګ راوړي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل! د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم د نیکۍ د دعوت انداز څومره ځانګړے وي! د هغوئي خدمت کوونکے چرې هم خالي لاسونه نه ځي. دا هم معلومه شوه چې کله څوک بنه سلوک اوکړي نو هغه ته دعاګانے کول پکار دي. که څوک غیر مسلمه احسان اوکړي نو د هغه په حق کښې د هدایت دعا کول پکار دي. د حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه او د هغوئي د مریدانو د هدایت دعا رنګ راوړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغوئي خدمت کوونکے غیر مسلمه طبیب د ایمان په دولت باندې مالا مال شو.

دعائے ولی میں وہ تاثیر دیکھی     بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

## غیر مسلمه طبیب مسلمان شو

د یو بل غیر مسلمه طبیب په اسلام کښې د داخلولو حیرانیدونکې واقعه اولولۍ. حضرت شیخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یو ځل ډیر ناروغه شو. خلقو

هغوئي د علاج د پاره يوے شفاخانے ته بوتللو. د بغداد شريف وزير علي بن عيسیٰ چې د هغوئي حالت اوليدلو نو فوراً ئې د بادشاه سره رابطه اوکړه چې ښوک تجربه لرونکے طبيب رااوليږي. بادشاه يو غير مسلمه ماهر طبيب رااوليږلو. هغه د حضرت شيخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د علاج د پاره ډير کوششونه اوکړل خو هغوئي ټيک نه شول. يوه ورځ طبيب اووئيل: که چرې ما ته معلومه شي چې زما د غوښې په ټوټې سره به تاسو ته شِفا ميلاؤ شي نو د خپل بدن د غوښې کټ کولو سره دړکول به هم په ما ګران نه وي. دا ئې چې واوريدل نو شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: ”زما علاج د دې نه هم په کم کښې کيدے شي،“ طبيب پوښتنه اوکړه: هغه څنګه؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: مسلمان شه. دا ئې چې واوريدل نو هغه مسلمان شو او د هغه په مسلمانيدو باندې حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم صحت مند شو. (روض الرياحين، ص158) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

امام عشق و محبت، اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپل د فارسئ کلام کښې د حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په بارګاه کښې عرض کوي:

شبليا اے شبلِ شیر کبریا اِمداد کُن

(حدائقِ بخشش، ص 329)

**ترجمه:** د خدائے د ازمري ځويه ازمريه، اے حضرت ابو بکر شبلي! زما مدد اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دين اسلام يو رښتينے مذهب دے، کوم چې بالکل د انسان د فطرت مطابق دے. غير مسلمه د اسلام په لور رابلل، د ټولو نبيانو، رسولانو سنت دي، ځکه چې د ټولو انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام دُنيا ته د راليږلو بنيادي مقصد خلق د کفر د تيَرو نه د راويستل او د دينِ اسلام په نُور کښې داخلول وو. په دې واقعه کښې د حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د نيکۍ د دعوت ښکلے کوشش هم ظاهريږي. د غير مسلمه د مسلمانيدو په خوشحالۍ کښې هغوئي صحت مند شول. لکه چې د جسماني علاج په غرض سره د راغلي يو روحاني او جسماني بيمار د کفر د تيَرو د غار نه د راويستل او د اسلام دولت ورکول وو. په ټوله دنيا کښې د نيکۍ د دعوت عام کولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک ”دعوتِ اسلامي“ د سنتو زده کولو او ښودلو په مدني قافلو کښې د سفر ذهن جوړ کړئ. د غير مسلمون د مسلمانولو او د بے لارے شوؤ مسلمانانو د نيک جوړولو ذريعه جوړه شئ.

کافر آجائیں گے، راہِ حق پائیں گے إن شاءَ اللّٰه چلیں، قافلے میں چلو

## د سُنَّت سره محبَّت لرلو عظیمه جَذبه

حضرت عبد الوهاب شَعراني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه لیکي: یو ځل حضرت ابو بکر شبلي بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته د اوداسه په وخت د مِسواک ضرورت شو، اوئې لټولو خو میلاو نه شو، ځکه ئې په یو دینار (یعنې د سرو زرو په یوه سکه) مِسواک واخستلو او استعمال ئې کړو. بعضې خلقو عرض اوکړو: دا خو تاسو ډیر زیات [رقم] اولګولو! څوک دومره ګران مِسواک هم اخلي؟ اوئې فرمائیل: بے شکه دا دُنیا او د دې ټول څیزونه د الله پاک په نزدیک ماشي د وزر برابر هم حیثیت نه لري، که چرې د قیامت په ورځ الله پاک زما نه دا پوښتنه اوکړه نو څه جواب به ورکووم چې تا زما د خوږ حبیب [صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] سنت (مِسواک) ولې پریښودو؟ ما چې تا له دا کوم مال دولت درکړے وو د هغې حقیقت خو (زما په نزدیک) د ماشي د وزر برابر هم نه وو، نو دومره حقیر دولت دې په دومره عظیم سنت (مِسواک) حاصلولو باندې ولې اونه لګولو؟

(لواقح الانوار، ص38ملخصاً)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د خوږ پیر و مرشد حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سنتِ مسواک سره د محبت ځانګړے انداز مرحبا صد مرحبا. کاش! مونږه هم په حقیقي معنو کښې رښتیني عاشقانِ رسول او د سنتو عملي نمونے جوړې شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ژړيدونکے حج

حضرت شيخ شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله د حج د پاره ميدانِ عرفات شريف ته تشريف يوړلو نو بالکل چپ پاتې شو، د نمر پريوتو پورې ئې هيڅ خبره اونه کړه، کله چې د سعي په وخت د ميلين اَخضَرَين"شنه ليټونه" نه وړاندې لاړے نو د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوے، په ژړا هغوئي په عربئ کښې شعرونه اووئيل د کومو پښتو ترجمه چې دا ده:

**(1)** زه روان يم په دې حال کښې چې ما په خپل زړه باندې ستا د محبت مُهر لګولے دے د پاره د دې چې په دې زړه باندې ستا نه سِوا بَل څوک تير نه شي.

**(2)** اے کاش! چې په ما کښې دا استقامت وے چې ما خپلې سترګې بندې ساتلے او تر هٔغه وخته پورې مې څوک هم نه ليدلے تر څو چې مې تهٔ نه ليدلے.

**(3)** کله چې د سترګو نه اوښکې رااوځي او په مخ باندې بهيږي نو ظاهريږي چې څوک واقعي ژاړي او د چا ژړا د مَکر او بناوټ [ژړا] ده.

(روض الرياحين، ص 100)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

# د بادشاه علاج

الله والا د جسماني بيمارو او د دنيائي مسئلونه نۀ يريږي بلکه که اوليائے کرام رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوغواړي نو د الله پاک په عطا سره د لوئے نه لوئے بيمار کوم چې تږولو ډاکټرانو د علاج نه کيدو په وجه واپس کړے وي د سترګو په رَپ کښې ټيک کړي، لکه څنګه چې يو ځل خليفه هارون الرشيد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بيمار شو، ډير علاج ئې اوکړو خو روغ نه شو، په دې حالت کښې شپږ مياشتې تيرې شوے. يوه ورځ هغوئي ته پته اولګيده چې حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هغوئي د محل په خوا تيريږي نو هغوئي هغه ته د ځان خوا ته د تشريف راوړلو درخواست اوکړو. کله چې هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تشريف راوړو نو هغوئي ته ئې اوکتل او ارشاد ئې اوفرمائيلو: فِکر مه کوه د الله پاک په رحمت سره هم نن به آرام راشي. بيا هغوئي دُرُودِ پاک اولوستلو او د بادشاه په بدن باندې ئې لاس رانښکلو نو هغوئي هم هغه وخت صحت مند شول. (راحت القلوب(فارسی)، ص50) هم داسې د بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم په باره کښې کيدے شي، ډاکټر اقبال ليکلي دي:

نہ پوچھ ان خرقہ پوشوں کی، ارادت ہو تو دیکھ ان کو
ید بیضاء لئے بیٹھے ہیں اپنی آستینوں میں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دينِ محمدي جلوے

حضرت ابو بكر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوفرمائيل: زه يوه ځل د مكۀ پاک نه مُلكِ شام ته روان ووم، په لاره كښې زما ملاقات د يو راهب (يعني د عيسايانو د غټ عالم) سره اوشو. هغه په يوه ګرجا (يعني په خپله عبادت خانه) كښې وو. ما د هغه نه پوښتنه اوكړه: تا خپل ځان د خلقو نه يواځې په دې ګرجا كښې ولې قيد ساتلے دے؟ هغه جواب راكړو: زه يواځې دلته ځكه اوسيږم چې ډير عبادت اوكړم او د دُنيا كار زما په عبادت كښې خنډ جوړ نه شي. ما ترينه پوښتنه اوكړه: تۀ د چا عبادت كوې؟ هغه جواب راكړو: د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام، ما اووئيل: څه وجه ده چې تۀ د معبودِ حقيقي د الله پاک د عبادت پريښودو سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَام عبادت كوے حالانكه د عبادت لائق خو صرف او صرف "الله" دے؟ هغه اووئيل: حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام شلويښت ورځې او شلويښت شپې بغير د خوراک څښاک نه تيرې كړې. ما د هغه نه پوښتنه اوكړه: كوم كَس چې شلويښت ورځې او شلويښت شپې بغير د خوراک څښاک نه وږې تږې تيرې كړي نو آيا هغه "خدائے" جوړيږي؟ هغه اووئيل: آو! هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغه ته اوفرمائيل: زه ستا سره دلته پاتې كيږم تۀ ئې شميره چې زه څومره ورځې بغير د خوراک څښاک نه تيرووم. چنانچه زه به شپه ورځ د الله پاک په عبادت كښې مشغول ووم، نه به مې څه خوړل، نه به مې څه څښل، دغه شان چې كله شلويښت ورځې او شلويښت شپې تيرې شوې نو ما هغه ته اووئيل: كه تۀ وائې نو زه نورې څو ورځې بغير د خوراک

خښناک نه تیروم. راهب چې کله زما دا حالت اولیدلو نو پوښتنه ئې اوکړه: ستا دین څه دے؟ ما اووئیل: زه د الله پاک د خوږ خوږ آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتي یم، زه د هغه ډیر وړوکے غلام یم او زمونږه دین ”اسلام“ دے. راهب زما خوا له راغلے هغه د خپل مذهب نه توبه کړه او د کلمه وئیلو سره مسلمان شو. بیا ما هغه د ځان سره دِمشق ته راوستلو او د هغه ځائے خلقو ته مې اووئیل: اے خلقو! د خپل دې نوي مسلمان وورور ښه خدمت اوکړئ او دے هیڅ قسمه پریشانئ ته مه پریږدئ. بیا یو څو ورځې زه په دمشق کښې ووم او بیا د هغه ځائے نه لاړم. هغه ګس به هر وخت د الله پاک په عبادت کښې مشغول وو او بیا چې کله واپس راغلم نو هغه مې هم په هغه حال کښې بیاموندو چې هغه په اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم کښې شمیرلے کیدلو. (عیون الحکایات، 189/1 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کوئی اندازہ کر سکتا ہے اس کے زورِ بازو کا    نگاہِ مردِ مؤمن سے بدل جاتی ہیں تقدیریں

## د شیخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په نزد د زکوٰة نصاب

ابن بشار به خلق د حضرت شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د کښیناستلو او د هغوئي د خبرو اوریدلو نه منع کول، یوه ورځ بڅپله ابن بشار د هغوئي د امتحان اخستلو د پاره حاضر شو. ابن بشار اووئیل: په پینځه اوښانو کښې

څومره زکوٰة دے؟ هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خاموشه پاتې شول، هغه چې بیا بیا پوښتنه اوکړه نو هغوئي اوفرمائیل چې د شرع شریف مطابق یوه چیلۍ واجب ده ولې زمونږ په شان خلقو د پاره حکم دے چې ټول په زکوٰة کښې ورکړو. ابن بشار پوښتنه اوکړه: په دې باره کښې ستاسو څوک امام شته؟ اوئې فرمائیل: آو! پوښتنه ئې اوکړه څوک؟ اوئې فرمائیل: حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څکه چې هغوئي خپل ټول مال خیرات کړو. حضور نبيِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اوفرمائیل چې تا د خپل بال بچ د پاره څه پریښودل؟ عرض ئې اوکړو: اللّٰه او د هغه رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. ابن بشار په دې حال کښې بیرته لاړو چې د دې نه پس ئې څوک هم د شیخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د کښیناستلو نه منع نه کړو. (طبقات کبریٰ للشعرانی، 149/1)

میں سب دولت رہِ حق میں لٹادوں     شہا ایسا مجھے جذبہ عطا ہو

## په څلور زره احادیثو کښې صرف یو؟

حضرت شیخ شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د څلور سوه علمائے کرامو په خدمت کښې پاتې شو او علمِ دین ئې حاصل کړو. هغوئي فرمائي: ما څلور زره حدیثونه مبارک اولوستل، بیا مې په هغې کښې یو حدیثِ پاک منتخب کړو او په هغې مې عمل اوکړو ما په دې حدیثِ پاک ډیر غور و فکر اوکړو نو د عذابِ الٰهی نه د خلاصي موندلو او خپل نجات او کامیابي مې هم په دې کښې اوموندله. هغه حدیثِ مبارک دا دے: رسولِ اکرم

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بعضي صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان ته ارشاد اوفرمائيلو: څومره چې په دنيا کښې اوسيدل دي، هغه همره د دنيا د پاره او څومره موده چې په قبر او آخرت کښې اوسيدل دي هغه همره د قبر او آخرت په تيارئ کښې مشغول شئ او د الله پاک د پاره دومره عمل اوکړئ څومره چې تاسو د هغه محتاج ئې او د دوزخ د اور د پاره دومره عمل اوکړئ څومره چې تاسو د برداشت کولو طاقت لرئ.

(ايها الولد، ص17)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم خدمت کوونکے

حضرت شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي چې ما په مکه کښې يو اعرابي (يعني د عرب کلي وال) د صوفيائے کرامو په خدمت کولو اوليدلو نو د دې د سبب پوښتنه مې ترينه اوکړه: هغه اووئيل: زه په شاړه تيريدم چې ما يو غلام اوليدلو کوم چې ښپې ابله ښپې، سر تور سر وو. د هغه سره د سفر سامان، د اوبو مشک وغيره نه وو. ما په خپل زړه کښې اووئيل چې زه د ده سره ميلاويږم، که چرې دے وږے وي نو په ده به خوراک اوکړم او که چرې تږے وي نو اوبه به پرې اوڅښم. بيا زه په هغه پسې شاته شاته روان شوم تر دې چې زمونږ د دواړو ترمينځ يو لاس فاصله پاتې شوه، خو ناڅاپه هغه زما نه لرې کيدل شروع شو تر دې چې زما د نظر نه غائب شو. ما په

زړه کښې سوچ اوکړو چې کيدے شي دا شيطان وو. نو يو آواز راغے: نهٔ! دا ديوانه وو. ما په تيز غږ خواست اوکړو: اے فلانکيه! زه تا له د هغه ذاتِ پاک وسيله درکووم کوم چې حضرت محمد مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رښتيني نبي جوړولو سره راليږلے دے، زما لړه خبره واورئ: نو هغه اوفرمائيل: اے ځلميه! تا ځان هم ستړے کړو او زه دې هم ستړے کړم. ما اووئيل: چې ما تاسو يواځې اوليدلئ نو ستاسو د خدمت د پاره حاضر شوے ووم. هغه اوفرمائيل: د چا سره چې خدائے وي هغه څنګه يواځې کيدے شي؟ ما پوښتنه اوکړه: ما ستاسو سره څه سامان هم اونه ليدلو، اوئې فرمائيل: کله چې زه وږے کيږم نو ذکر الٰهى زما خوراک جوړيږي او کله چې زه تږے کيږم نو د الله پاک ديدن زما سوال او مطلوب جوړيږي. ما عرض اوکړو: زه وږے شوے يم ډوډئ راباندې اوخورئ. نو هغه پوښتنه اوکړه: آيا تهٔ د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم کرامات نه منې؟ ما اووئيل: ولې نه! خو د زړه د اطمينان د پاره د دې خبرو پوښتنه کووم. هغه خپل لاس شګلنې زمکې ته را واچولو او يو موټے ئې راډک کړو او زما په لور ئې را اوغزولو او اوئې وئيل: اے دهوکه خوړونکيه! واخله اوخوره. ما اوکتل چې هغه خاوره خوندور ستوان جوړ شوي وو، ما اووئيل: ځومره خوارِه دي! نو هغه اووئيل: په بيابان کښې اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم ته داسې ډير نعمتونه حاصل دي، که ته پوهيږې. ما عرض اوکړو: په ما اوبه هم اوځښئ. نو هغه خپله ښپه زمکې ته راواچوله نو د شاتو او اوبو چينه

رااوتله. زه د اوبو ښنبلو د پاره چینې ته کښیناستم، بیا چې ما کله سر را اوچت کړو نو ما ته ښکاره نه شو، پته نه لګي چې چرته غائب شو. ځکه زه د هغه ورځې نه د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْهِم په خدمت کښې مصروف یم چې کیدے شي د هغه په شان د چا ولي زیارت اوکړم. (بحرالدموع، ص74)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ښه وئیل د چپ پاتې کیدو نه بهتر دي

په "کشفُ المَحجوب" کښې حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لیکي: یو ځل حضرت ابو بکر شبلي بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د بغداد شریف په یوه محله تیریدلو یو کَس داسې وئیل: اَلسُّکُوْتُ خَیْرٌ مِّنَ الْکَلَامِ یعنې خاموشي د وئیلو نه بهتر ده، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه هغوئي ته اوفرمائیل: "ستا د وئیلو نه ستا چپ پاتې کیدل ښه دي او زما وئیل د چپ پاتې کیدو نه بهتر دي."

(کشف المحجوب، ص402ماخوذاً)

## د رزق په مُعامَله کښې فکر کوونکي له ښکلے جواب

د حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه په خدمت کښې یو کَس حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یا سیدي! زما بال بچ زیات دے او د رزق اسباب مې

کم دي. هغوئي اوفرمائيل: خپل کور ته لاړ شه او هر هغه ګس بهر اوباسه د کوم رزق چې ستا د ذهن مطابق ستا په ذمه وي او د چا رزق چې د الله پاک په ذمه وي هغه پريږده.

(طبقاتِ کبریٰ للشعرانی، 1/148)

## د وفات شريف په وخت هم په سنت باندې عمل

حضرت جعفر بن محمد بن نصير بغدادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د حضرت شيخ شبلي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د خادم بکرَان دينوري نه پوښتنه اوکړه: "د وفات شريف په وخت د حضرت شيخ شبلي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څه حالت وو؟" جواب ئې ورکړو:

"هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل چې د يو ګس يو درهم زما په ذمه دے کوم چې د ظلم په لار ما له راغلے وو حالانکه ما د هغه د مالک د اړخ نه په زرګونو درهم صدقه کړي دي خو زما سره د ټولو نه زيات د هغه [يو درهم] فِکر دے." بيا ئې ارشاد اوفرمائيلو: "په ما باندې د لمُونځ د پاره اودس اوکړه." ما پرې اودس اوکړو خو په ګيره کښې مې خِلال کول هير شول او هغه وخت هغوئي خبرې نه شوې کولے څکه ئې زما لاس اونيولو او ګيرې له ئې وروړلو بيا هغوئي وفات شول. دا ئې چې واوريدل نو حضرت جعفر رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په ژړا شو او اوئې فرمائيل: "تهٔ د داسې ګس په باره کښې څه وائې د چا نه چې د عمر په آخري ساعت کښې هم د

شريعت څه ادب نه وي پاتې شوے." (احیاء العلوم، 233/5)لکه چې هغوئي د دې شعر عين مِصداق وو:

تبلیغ سنتوں کی کرتا رہوں ہمیشہ　　مرنا بھی سنتوں میں ہو سنتوں میں جینا

(وسائلِ بخشش، ص 191)

## وفات شريف

هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د جُمعې مبارکې په ورځ په 27 ذو الحجةُ الحرام 334ھ د 88 کالو په عمر کښې وفات شول. د هغوئي مزارِ پر انوار په بغداد شريف کښې دے.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ټول اولادِ آدم له طرفه ئې جواب ورکړو

د وفات شريف نه پس چا هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خوب کښې اوليدلو او پوښتنه ئې ترينه اوکړه چې د نکيرين نه مو څنګه نجات حاصل کړو؟ اوئې فرمائيل: کله چې هغوئي زما نه پوښتنه اوکړه چې ستا رَبّ څوک دے؟ نو ما جواب ورکړو: زما رَبّ هغه دے کوم چې د آدم پيدا کولو سره تاسو او نورو فرښتو ته په سجده کولو کتل. دا جواب ئې چې واوريدو نو نکيرين اووئيل: ده خو د ټول اولادِ آدم له طرفه جواب راکړو او د دې وئيلو سره بيرته لاړلې.

(تذکرۃالاولیاء، 153/2)

## د ”ابو بکر“ د شپږو حرفونو په نسبت

## سره د شيخ شبلي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه 6 فرامين

**(1)** شُکر نعمت ته د کتلو نوم نه بلکه نعمت عطا کوونکي ته د نظر کولو نوم دے.

(رساله قشیریه، ص212)

**(2)** د مسلمان چې کله د دنيا نه د رخصتيدو وخت نزدې راشي نو د هغه رنګ زيړ شي ځکه چې هغه په بارګاهِ الٰهی کښې د اودريدلو نه ويريږي، مسلمان به چې کله د خپل قبر نه ووځي نو د هغه مخ به پرقيدونکے او روښانه وي.

(طبقات کبریٰ للشعرانی، 148/1)

**(3)** د بدو خلقو د صحبت د نحوست سره د نيک بندګانو په باره کښې بدګماني پيدا کيږي.

(الکواکب الدریة، 86/2)

**(4)** څه چې ستا د پاره دي هغه به تا ته خامخا ميلاويږي او څه چې ستا نه دي هغه به په کوشش کولو هم نه ميلاويږي.

(شریف التواریخ، 603/1)

**(5)** د قرآنِ کريم د نصيحتونو نه د فيض حاصلولو د پاره زړه داسې حاضرول پکار دي چې په هغې کښې د سترګو د رَپ په مقدار هم غفلت رانشي.


(تفسیر ثعلبی، پ26، ق، تحت الآیت: 37، 106/9)

**(6)** د حج دوه حرفونه دي: وړومبنے ”حا“ او دويم ”جيم.“ د ”حا“ نه مراد حلم او د ”جيم“ نه مراد جرم دے. د دې نه مراد دا دے لکه چې بنده وائي: اے زما رَبَّ! زه ستا د حلم او ستا د رحمت د اميد سره ستا په بارګاه کښې د خپل جرم سره حاضر يم که تۀ هم زما جرم نه بخښې نو څوک به ئې بخښي؟

(الروض الفائق، ص 57)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

درارواني هفتي رساله





فيضانِ مدينه، محلّه سوداكران، زره سبزي مندهي كراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com